# په اسلامي فقه او جزا کوډ کې د ټرافیکي پېښو اړوند جرمونو مجازات

**پوهنیار عبدالعزیز عابد [۱]، پوهنیار شفیع الله امیني [۲]**

[۱]فقه او قانون ډیپارټمنټ، شرعیاتو پوهنځی، لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه.
[۲] اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ، ښوونې او روزنې پوهنځی، لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه.
برېښنالیک: abdulazizabid2023@gmail.com

**لنډیز**

دغه څېړنه د ټرافیکي پېښو پېژندنې او په اسلامي فقه او د افغانستان جزا کوډ کې یې اړوند جرمونو او مجازاتو باندې څرخېږي، د څېړنې موخه د ټرافیکي پېښو پېژندنه، ډولونه، په ټرافیکي پېښو کې د ګډون ډولونه، جنایي مسؤولیت او اړوند جرمونو مجازات دي. د څېړنې تګلاره استقرایي ده. د څېړنې پایلې ښایي: په ټرافیکي پېښو کې ټولې هغه پېښې شاملېږي چې د سپرلیو د استعمال په پایله روح او بدن ته په کې زیان رسېږي، دا هغه جرمونه دي چې په دې سره حقوق العباد له منځه ځي. که په قصدي توګه ترسره شي قصاص او که په خطاء سره وي دیت لازمېږي، چې قانون ورباندې نقدي جریمه د پېښې د ډول په پام کې نیولو سره ټاکلی ده. د څېړنې ارزښت له دې مالومېږي، چې موضوع د نفس او مال سره تړاو لري او دا د اسلام دین له پینځوو مهمو اړتیاوو څخه دي.

**کلیدي کلیمې:** اسلامي فقه، ټرافیکي پېښې، جرمونه، جزا کوډ، مجازات

**سریزه**

الله جل جلاله په خپل قدرت سره د خپلو بنده ګانو لپاره دومره زیات نعمتونه پیدا کړي چې انسان یې نه شي شمېرلای. الله جل جلاله یې په اړه داسې فرمایلي:« وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لاَ تُحْصُوهَا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ» (ابراهیم: ۳۴). ژباړه: او که تاسو د الله جل جلاله نعمتونه وشمېرئ؛ نو تاسو به هغه ونه شمیرلی شئ، بېشکه انسان خامخا ډېر ظلم کوونکی او ډېر نا شکره دی. یو له هغو سترو نعمتونو څخه دا هم دی چې الله جل جلاله د انسانانو د آسانتیا لپاره سپرلۍ او عصري نقلیه وسایط پیدا کړي دي، ترڅو ترې انسانان په خپل ژوند کې سمه ګټه واخلي او د خپل ځان او نورو انسانانو د ضرر سبب نه شي؛ خو د یادونې وړ ده چې کله کله داسې هم پېښېږي چې له انسان څخه په خطاء د دغه نقلیه وسایطو له امله ټرافیکي پېښه رامنځته کېږي، چې په پایله کې ځان او نورو ته زیان رسوي. د څېړنې ارزښت دا دی چې دغه څېړنه د ورځني ژوند د اړتیاوو لکه: نفس او مال سره تړلې موضوع ده. په اسلام کې د نفس او مال ساتنې ته ځانګړې پاملرنه شوې او په اړه یې موږ ته د ساتنې او حفاظت سپارښتنه شوې ده. دا هم په ډاګه کوي چې که د کوم شخص له لوري ټرافیکي پېښې ترسره شي؛ نو د مسؤولیت او

حقوقو څخه یې خبر شي او په ټولنه کې دغو پېښو ته د جرم او مسؤولیت په سترګه وکتل شي؛ ترڅو د ارتکاب څخه یې خلك ډډه وکړي او دا چې زمونږ ټولنه کې ټرافیکې پېښې ورځ تر بلې په ډېرېدو دي، له امله یې ډېری خلك خپل ژوند له لاسه ورکوي، ډېرې کورنۍ بې سرپرسته کیږي، چې په ټولنه بار او د یو لړ ستونزو سره لاس او ګرېوان وي.

ډېری خلك په دې نه پوهېږي، چې په دغه پېښه کې مالي او ځاني تلفات اوړېدل یو جرم بلل کېږي او په اړه یې اسلامي فقهې او د ګران هیواد افغانستان جزا کوډ پوره وضاحت کړی دی. نو دغه څېړنه به د دې ستونزې لپاره حل پیدا کړي، ترڅو خلك ترې خبر شي او د داسې ناوړه پېښو څخه مخنیوی وکړي. د څېړنې موخه مو د ټرافیکي پېښو پېژندنه او ټرافیکي پېښې ټولنې ته د یو شرعي او قانوني جرم په بڼه ورپېژندل دي. د ډېرې مطالعې څخه وروسته ښکاره شوه، چې په یاده موضوع باندې په ملي ژبو کې کومه لیکنه نه ده شوې، خو په عربي ژبه کې دکتور خلافي سلمان د (أحکام حوادث المرور دراسة في ضوء مستجدات المعاصرة) په عنوان تېزس لیکلی دی. همدارنګه په اړوند موضوع ظفیري د(الأثار الشرعیة المترتبة علی حوادث السیر) په نوم په عربي ژبه کې څېړنه کړې ده. همدا راز، د یادې موضوع اړوند په عربي ژبه ځیني نورې څېړنې او لیکنې هم شوي دي، خو د دې څېړنې توپیر د نور څېړنو سره په دې کې دی، چې په دې څېړنه کې د ټرافیکي پېښو اړوند د ګران هېواد افغانستان جزا کوډ څخه بقحث شوی او په ګران هېواد کې یې د زیاتېدو لاملونه هم په ګوته شوي دي.

## د څېړنې تګلاره

د څېړنې په اوږدو کې لومړی اصلي سرچینې او اړوند څېړنیزې مقالې پیدا کړې، د لیکلو له ترتیب ورسته د مقالې اړوند موضوعات په نښه شول. د موضوعاتو له تحلیل وروسته ځینې مطالب د نقل قول، د ځینو له عباراتو او د ځینو له مطالبو څخه د لنډیز په شکل ګټه واخیستل شوه.

## لومړی مبحث: د ټرافیکي پېښو پېژندنه

دا چې په ټرافیکي پېښو کې کله ناکله انسان ته مرګ ژوبله اوړي؛ نو لومړی باید ټرافیکي پېښه وپېژنو. د لغت له نظره د حادثې پېژندنه: حادثه لفظ د (حدث) نه اخیستل شوې ده، لکه چې ویل کېږي.(حدث الشيء حدوثا، ای تجدد وجوده). هغه شی چې نوی ایجاد شي، (حدیث، حادث، حدث به عیب، اذا تجدد وکان معلوما قبل ذلك). ژباړه: حادث لفظ حدیث، دا د نوي په مانا سره راځي، لکه چې ویل کېږي، (حدث به عیب) کله چې په یو چا نوی عیب ښکاره شي، البته له مخکې مالوم وي، خو اوس ښکاره شي، دې ته حدث وایي (لسان العرب، لابن منظور، ۲/ ۹۳۶). همدا شان لکه چې ویل کېږي، (حدث به أمر، أي وقع). (مختار الصحاح، لجوهري، ۱/ ۲۷۸). ژباړه: کله چې یو نوی کار پېښ شي، خلك وایي (حدث به امر) لنډه دا چې حادثه نوې پېښې ته ویل کېږي.

په اصطلاح کې د ټرافيکي پېښو پېژندنه: د سپرليو د استعمال په پايله کې ټولو هغو پېښو ته شاملېږي چې په هغې سره روح وځي، بدن ته پکې زيانونه رسيږي او مالونه پکې له منځه ځي. (الآثار الشرعية المترتبة على حوادث السير دراسة فقهية مقارنة بنظام، لظفيري،ص۹).

**دويم مبحث: د ټرافيکي پېښو ډولونه**

لومړی مطلب: د ضرر له مخې د ټرافيکي پېښو ډولونه:

ټرافيکي پېښې ډېر ډولونه لري چې هر يو يې بېل بېل ډول او بېل بېل حالت لري، چې هر يو به يې په خپل ځای کې وڅېړل شي.

دلته مونږ د ټرافيکي پېښو ډولونه د ضرر له مخې څېړو.

الف: هغه پېښه چې په هغې کې مرگ پېښ شي، لکه موږ چې ترې په تعريف کې يادونه وکړه، چې ځينې وخت داسې هم کېږي چې په ټرافيکي پېښه کې مرگ رامنځته شي. (الآثار الشرعية المترتبة على حوادث السير دراسة فقهية مقارنة بنظام ، لظفيری، ص۹).

ب: هغه پېښه چې په هغې کې بدن ته ضرر ورسېږي، کېدای شي، چې ډېر کسان ژوبل شي، يا يو نفر او دا هم کېدای شي، چې زخمونه واړه او يا غټ وي، ښکاره او يا پټ وي. (تحليل حوادث السيارات بالطريق السريع، ليوسف احمد، ص ۹).

ج: هغه پېښې چې په هغو کې مرگ ژوبله رامنځته نه شي، البته مالي زيان پکې رامنځته شي يا نقليه وسايط خراب شي، شيان خراب شي هغه که عام وي او که خاص، مثلا دوکانونه خراب شي. (حوادث السيارات فی التشريع الجنايي الاسلامي، لناجح محمد حسن عصيدة، ص ۴۴).

**دويم مطلب: د عمد (قصد) او خطاء په اعتبار سره د ټرافيکي پېښو ډولونه:**

لکه مخکې مو يادونه وکړه چې ټرافيکي پېښې مختلف ډولونه لري، چې هر يو به په خپل ځای کې وڅېړو، دلته يې د عمد او خطاء په اعتبار سره څېړو.

الف: په عمد سره ټرافيکي پېښه: دا په دې مانا چې ځينې خلك په سپرلۍ کې په دې قصد کيني چې موږ په دې سپرلۍ سره نور خلك ووهو او يا هم په دې سپرلۍ سره نورې سپرلۍ ووهو. (مقصد دا چې د يو جرم قصد لري)؛ نو په داسې حالاتو کې دا ټرافيکي پېښه په عمد قتل کې راځي، په قرآن کريم او مبارك حديثونو کې په مطلقه ډول عمد قتل راغلی، د عمد قتل آلات يې نه دي مشخص کړي. همدا شان د عمد قتل کيفيت يې هم نه دی مشخص کړی او دا يې عرف ته سپارلي دي؛ ځکه چې د عمد قتل آلات او لاملونه د وخت او ځای په بدلون سره بدلون کوي او دا د حکمت غوښتنه هم نه ده چې د عمد قتل آلات تحديد کړي، که چېرې دا آلات مشخص وای؛ نو مجرمانو به نور داسې آلات استعمالولای چې په هغو سره د جزا څخه خلاصېدلای. (الآثار الشرعية على حوادث السير، لظفيري، ص ۱۹). د دې مثالونه داسې دي لکه چې يو ډرېور په عمدي توگه هېڅ ډول ټرافيکي اصول او مقررات نه مراعتوي چې په پايله کې يې ټرافيکي پېښه رامنځته کېږي، چې دې ته بيا عمد قتل وايي، يا په قصدي

توګه نشه کوي او د نشې په حالت کې موټر چلوي چې هېڅ په ځان خبر نه وي چې په پایله کې بیا ټرافیکي پېښه رامنځته شي، دا هم عمد قتل بلل کیږي.
اصل دا دی چې ټرافیکي پېښې که په خطاء سره هم وي، خو کله چې داسې کړنې ترسره شي لکه چې مورږ ذکر کړې؛ نو بیا دا عمدي شمېرل کېږي. په اوس وخت کې موټر، طیارې او داسې نور نوي آلات دي، چې له امله مرګونه پېښیږي.
ب: په خطاء سره ټرافیکي پېښه:
په عامه توګه ټرافیکي پېښې په خطاء سره رامنځته کېږي؛ ځکه څوك چې د سپړلیو ښځبنتنان دي هغوی دا نه غواړي چې مورږ په خپله سپرلۍ څوك ووهو، البته کله نا کله ترې اشتباه کیږي او په پایله کې یې ټرافیکي پېښه رامنځته کېږي، په خطاء سره ټرافیکې پېښه په دې مانا چې یو ډرېور خپله سپرلۍ چلوي او هیح قصد نه لري چې زه پرې څوك ووهم؛ خو کله ترې په خطاء سره یو څوك وهل کیږي.
دریېم مطلب: د مباشرت (لاس په لاس) او سبب په اعتبار سره د ټرافیکي پېښو ډولونه:
کله نا کله ټرافیکي پېښه لاس په لاس وي خو کله بیا د یو سبب له امله وي.
الف: په مباشره توګه ټرافیکي پېښه: دا مانا چې یو شی د هغې له امله له منځه لاړ شي، لکه د یو چا له امله یو څوك مړ شي او یا د یو چا له امله وسوځي.
د مباشر پېژندنه: د مباشرت تعریف اړوند په مجلة الاحکام کې داسې راغلي: په خپله یو شی له منځه وړل او څوك چې داسې کار کوي هغه ته مباشر وایي (شرح مجلة الاحکام العدلیة، لسلیم باز، المادة ۸۸۷).
په مباشره توګه د ټرافیکي پېښو مثال: لکه یو سړی په خپله په موټر یو څوك ووهي او هغه له دې وهلو له امله مړ شي.
ب: په سببي توګه ټرافیکي پېښه: دا په دې مانا چې د یو چا له خوا ضرر رامنځته شي، خو البته د هغه په لاس یا مستقیم ډول نه وي بلکې په غیر مستقیم ډول وي.
د سبب پېژندنه: په دې مانا چې ضرر د یو شخص له امله رامنځته شي، البته چې د شخص او ضرر تر منځ بل فعل وي، چې په مثال کې وروسته واضح کیږي (غمز عیون البصائر، للحموي، أحمد بن محمد، ۱/ ۴۶۶).
مثال: یو سړي په یوه لاره کې څاه کیندي، بل سړی پکې لویېږي او مري، که په دې مثال کې فکر وکړو دلته مرګ لاس په لاس نه دی رامنځته شوی؛ بلکې د سبب له امله رامنځته شوی، چې هغه څاه ده، یا یو څوك په لاره کې څاروی وتړي، هغه څوك په لغته ووهي او مړ شي، دلته هم قتل د سبب له امله رامنځته شوی چې هغه قتل د حیوان له امله پېښ شوی دی، چې سبب یې انسان دی(الآثار الشرعیة المترتبة علی حوادث السیر ، لظفیري ، ص ۲۱).
په سبب سره د ټرافیکي پېښې مثال: یو سړی یو چا ته موټر ورکوي او هغه ته وایي چې په فلانی لاره لاړ شه، هغه لاره ډېره خرابه وي، ټکر وکړي او مړ شي، دلته هم مرګ د سبب له امله رامنځته شوی؛

اصل کې مرګ د هغه چا له خوا رامنځته شو، چا چې ورته موټر ورکړی، البته هغه په مباشره توګه نه دی وژلی، یا یو څوک یو ماشوم ته موټر ورکړي او هغه پرې څوک ووهي، په دې مثال کې که موږ فکر وکړو؛ نو مرګ د هغه چا له خوا رامنځته شوی چا چې ماشوم ته موټر ورکړی، البته د مرګ سبب هغه سړی دی.

څلورم مطلب: د اشتراك او انفراد په اعتبار سره د ټرافيکي پيښو ډولونه: ځيني وخت ټرافيکي پيښې په ډله ييزه توګه وي، ولې ځيني وخت بيا داسې نه وي او ټرافيکي پيښې په انفرادي توګه وي، چې په لاندې توګه ترې يادوونه کوو:

الف: هغه ټرافيکي پيښه چې هغه په انفرادي توګه ترسره شي چې مسؤوليت يې يو شخص ته راجع کيږي (حاشيه ابن عابدين، ۴ / ۳۰۵). د دې ټرافيکي پيښې مثال داسې دی لکه چې يو موټر ولاړ وي، بل موټر راشي او هغه په ولاړه ووهي او هيڅ ټرافيکي لارښوونې مراعت نه کړي، يا يو ډريور په داسې لار لاړ شي چې قانون په هغه لار تګ منعه کړی وي او څوک په موټر ووهي، يا نور شيانو ته زيان ورسوي.

ب: هغه ټرافيکي پيښه چې هغه په ډله ييزه توګه ترسره شي، د دې ډول پيښې مثال داسې دی، چې دوه موټر وي، دواړه روان وي، په روانه ټکر وکړي او په پايله کې دواړو خواوو ته مرګ ورسيږي، کله داسې هم کيږي چې عام وګړي قانون مراعات نه کړي او په هغو لارو تګ راتګ وکړي چې په هغو لارو باندې قانون تګ راتګ منعه کړی وي اود قانوني لارښوونو په سرغړونه کې ورته زيانونه ورسيږي. کله چې په ګډه توګه پيښه رامنځته شي، مثلا دوه موټر ټکر وکړي، اسلامي شريعت ټول زيان په يو جانب نه لازموي، هر هغه څوک چې څومره په قضيه کې دخيل وي په هم هغه اندازه تاوان پرې لازم او قانون هم خپل مقررات او اصول لري چې د هغو مطابق جنايت کوونکو ته جزا ورکوي چې وروسته به توضيح شي.

**دريیم مبحث: د ټرافيکي پيښو اسباب**

هر کله چې يو جرم تر سره کيږي يو سبب لري اود هغه په سبب جرم ترسره کيږي. دا چې په ټرافيکي پيښو کې د انسان څخه جرم ترسره کيږي؛ نو حتما يو سبب لري چې له امله يې د انسان څخه جرم ترسره کيږي؛ نو لازمه ده چې د ټرافيکي پيښو اسباب وپيژنو، د ټرافيکي پيښو اسباب عبارت دي له: ۱- لار ۲- موټر ۳- انسانان ۴- طبعي عوامل.

لومړی مطلب: لار

د دولت له لويو مسؤوليتونو څخه د عامو او خاصو لارو جوړول دي ترڅو پرې وګړي په اسانی سره تګ راتګ وکړي او د ستونزو سره مخ نه شي، پراخه سړکونه او عامې لارې ورته جوړی کړي، د لارو ساتنه وکړي، د نا امنيو نه يې وساتي، د لارو چې کوم اصول وي هغه هم ورته وضعه کړي، د هغو خلکو مخه ونيسي چې هغوی لارې تنګوي او نا امنه کوي يې، د لارو اړوند درې ډول مسايل په لاندې توګه ذکر کوو.

هغه اسباب چې امله يې لاره کې ټرافيکي پيښې رامنځته کيږي:

۱- د انجنیري اصولو مخالفت
۲- له ټرافیکي مقرراتو او لارښوونو څخه بې پروایي
۳- اقلیمي تأثیرات
د دې ترڅنګ کله کله ټرافیکي پېښې د لاندې سببونو له امله هم رامنځته کېږي:
أ: د باران له امله چې سړک ښوی شي
ب : په ځینو سیمو کې د ژمي په موسم کې د واورو ښویدني له امله
ج: هغه خنډونه چې د هغې له امله لار نه ښکاري، لکه د هوا ککړتیا، ګرد، غبار، د ونو ګڼ والی، د انسانانو ازدحام، د موټرو ازدحام او داسې نور (حوادث السیارت فی التشریع الجنایي الاسلامي دراسة فقهیة مقارنة ، لناجح محمد، ص ۷۱ ).
دوېم مطلب: موټر
د انتقال اسباب اسلامي شریعت ډېر پخوا بیان کړي دي، هغه وسایل چې د هغو پر مټ سره سامانونه د یو ځای نه بل ځای ته انتقالیږي. الله جل جلاله فرمایلي دي. «وَالأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ، وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ، وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَى بَلَدٍ لَمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلاَّ بِشِقِّ الأَنْفُسِ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ، وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ» (النحل: ۵ - ۸). ژباړه: څاروي، هغه یې پیدا کړي دي، تاسو لپاره په دوی کې د ګرمۍ اسباب او نورې ګټې دي او ځینې په دوی کې تاسو خورئ او تاسو لپاره په دوی کې ښایست دی کله چې یې بیرته ماښام کور ته راولئ او کله چې یې د څر لپاره بوځئ او دوی ستاسو درانه بارونه پورته کوي هغه ښار ته چې تاسو هغې ته رسېدونکي نه یاست؛ خو د ځانونو په مشقت سره، بېشکه ستاسو رب یقینا ډېر نرمي کوونکی، بې حده مهربان دی او اسونه، قچر او خره یې پیدا کړي دي د دې لپاره چې تاسو په دغو باندې سواره شئ او د زینت لپاره او پیدا کوي هغه څه چې تاسو یې نه پیژنئ). په دې مبارکو آیاتونو کې الله جل جلاله نقلیه وسایلو ته اشاره کړې ده، هغه وسایل چې پخوا وخت کې وو او د آیت په پای کې یې وفرمایل چې زه به په آخري وخت کې داسې شیان پیدا کړم چې تاسې یې اوس نه پېژنی، لکه په اوس وخت کې پرمخ تللې موټر، طیارې کښتۍ او نور داسې شیان چې اوس مونږ هغه نه پېژنو او وروسته به پیدا شي. دا ټول د الله جل جلاله هغه نعمتونه دي چې الله جل جلاله په خپلو بندګانو باندې کړي دي.
د هغه موټرو صفات چې هغه دچلولو وړ نه وي:
۱- موټر تخنیکي عوارض ولري او د چلولو وړ نه وي.
۲- ډرېور د موټر په اړتیاوو نه پوهېږي هغه څه چې د موټر په چلولو کې اړین وي.
۳- د خاص کارونو لپاره عام موټر استعمالول لکه مثلا غټ بسونه، د اور موټر او داسې نور...
۴- موټر په داسې لار بوول چې هغه د دې لپاره برابره نه وي، لکه غټه لارۍ په داسې لاره بوول چې هغه لاره تنګه وي او یا هم لاره دومره مضبوطه نه وي چې د دې لارۍ توان ولري او داسې نور (حوادث

السیارت فی التشریع الجنایي الاسلامي دراسة فقهیة مقارنة، لناجح محمد، ص ۷۳). دا هغه کارونه دي که چېرې یې انسانان مراعت نه کړي ټرافیکي پېښې رامنځته کوي.

درېیم مطلب: انسان

ډېری وخت ټرافیکي پېښې د انسانانو له خوا رامنځته کېږي، هغه که پیاده تلونکي انسانان، موټر چلوونکي او که سپاره انسانان وي. په لاندې حالاتوکې ټرافیکي پېښې منځته راځي.

هغه پېښې چې له پیاده تلوونکو له خوا رامنځته کیږي

لومړی: د بې پروایي له امله.

دویم: ټرافیکي مقررات نه مراعتول، هغه که پیاده تلوونکي وي او که موټر چلوونکي وي.

درېیم: هغه لار چې پرې ماشومان تېریږي.

څلورم : هغه سرغړونې بیا بیا تکرارول چې د هغو له امله ټرافیکي پېښې رامنځته شوې وي.

او داسې نور.... (حوادث السیارت فی التشریع الجنایي الاسلامي دراسة فقهیة مقارنة، لناجح محمد، ص۷۴، وحوادث السیارات، لفواعیر ۴۴- ۴۵ ) .

هغه اسباب چې موټر چلوونکو ته د پېښو په ترسره کولو کې راجع کېږي عبارت دي له:

١ - د لارې آداب او اخلاق نه مراعتول.

٢- ټرافیکي قوانین نه مراعتول.

٣- خپل مسؤولیت نه پېژندل.

۴- ټرافیکي لارښوونې نه مراعتول.

۵- د لارو اصول نه مراعتول.

٦- په سفر کې هغه پټې (بېلټ) نه تړل چې په سفر کې یې باید سفر کوونکي وتړي (حوادث السیارات، للفواعیر ، ۵۴/ : حوادث السیارت فی التشریع الجنایي الاسلامي دراسة فقهیة مقارنة، لناجح محمد، ص ٧٦ ).

٧- په لار کې د مبایل استعمال.

٨- په موټرو کې د بې کیفیته تېلو کارول.

٩- د بې کیفیته ښېښو کارول چې مضرې شعاوې نه شي منعه کولای.

دعامو سلوکو مخالفت کول.

١- لکه په لاره کې سندرې اورېدل.

٢- نشه کول (حوادث السیارات، للفواعیر. ص۵۵) .

څلورم مطلب: طبعي عوامل

١ـ بارانونه، گلی، واورې او ډېره گرمي.

٢ـ لوندوالی، د لارو گنده کېدل او ختې.

٣ـ ډېر بادونه، گرد او دوړې.

۴ـ د لمر وړانګې او داسې نور (حوادث السيارات، للفواعير، ص٥٦).

**څلورم مبحث: په اسلامي فقه کې د ټرافيکي پېښو جنايي مسؤوليت**

د اسلامي شريعت له ځانګړتياو څخه دا هم ده چې جرمونه يې په ګوته کړي او سزاوې يې ورته ټاکلي دي، ترڅو په ټولنه باندې بدې اغيزې ونه لري؛ نو د ياد جرم مسؤوليت په دوه ډوله دی چې په لاندې توګه يې بيانوو.

لومړی مطلب: اخروي مسؤوليت

مخکې له دې چې د ټرافيکي پېښې دنيوي مسئووليت توضيح کړو، لومړی اخروي مسؤوليت تشريح کوو:

دا يوه ښکاره حقيقت دی چې الله جل جلاله انسان عزتمند پيدا کړی او په اړه يې الله جل جلاله داسې فرمايلي دي

« وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلاً» (الاسراء: ۷۰). ژباړه: او يقينا يقينا موږ د آدم او لاد ته ډير عزت ورکړی دی او موږ دوی په سپرليو باندې په وچه او سمندر کې سپاره کړي دي او موږ دوی ته خوندور پاک شيان ورکړي دي او موږ دوی په خپل مخلوق کې په ډېرو زياتو باندې غوره کړي دي). په دې مبارک آيت کې الله جل جلاله د انسان غوره والی بيان کړی دی؛ نو د دې عزت تر څنګ الله جل جلاله د مسلمان د وينې په ساتنه ډير ټينګار کړی او هغه چاته يې سخت وعيد ټاکلی چې هغوی د مسلمانانو وينې تويوي. الله جل جلاله داسې اشخاصو ته دنيوي جزا قصاص او داسې نور... ټاکلي دي، د دې لپاره چې د انسانانو د وينو ساتنه وشي او دنيوي نظام خراب نه شي، البته الله جل جلاله په دنيوي جزا بسنه نه ده کړې او ترڅنګ يې اخروي جزا هم د دې نه سخته مقرره کړې ده. په اړه يې داسې فرمايلي دي: « وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا» (النساء:۹۳) . ژباړه: او هغه څوک چې مؤمن په قصد سره قتل کړي؛ نو د هغه سزا جهنم دی چې تل به په هغه کې وي او الله به ده باندې غضب کړی دی او په ده يې لعنت کړی دی او د ده لپاره يې بيخي لوی عذاب تيار کړی دی.

دا مبارک آيت او د دې په شان نور ډېر آياتونه او حديثونه په دې خبره دليل دي چې اسلامي شريعت د مسلمان وينه تويول حرام کړي دي او دغه سزاوې يې ورته ذکر کړې کومې چې په دې مبارک آيت کې ترې يادونه شوې ده. دا د هغه چا لپاره دي چې په عمدي توګه قتل وکړي او که چېرې قتل په خطاء سره وي بيا په کې ديت دی. اکثره علماوو ويلي دي چې ټرافيکي پېښې خطاء قتل دی؛ ځکه څوک دا نه غواړي چې په موټر څوک په قصدي توګه ووهي او مړ يې کړي، البته يو شمېر ځوانان چې نشې کوي، ټرافيکي مقررات هيڅ نه مراعتوي او په دې حالت کې ټکر وکړي؛ دا بيا علماوو په عمد قتل کې شمېرلې دي (الآثار الشرعية على حوادث السير، لظفيري، ص ۴۸).

**يادونه:** که ټرافيکي پېښې په عمدې توګه وي؛ نو اخروي جزا يې هغه ده کومه چې په ذکر شوي مبارک آيت کې تېره شوه، البته که يو څوک توبه وباسي؛ نو الله جل جلاله نه اميد شته چې ښښنه به ورته وکړي؛ ځکه الله جل جلاله فرمايلي دي. «إِنَّ اللَّهَ لاَ يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ» (النساء:۴۸). ژباړه: بېشکه الله نه ښښي دا چې له هغه سره دې څوک شريک کړی شي او هغه ښښي هغه ګناه چې له دې شرک يا کفر نه کمه وي.

له دې مبارک آيت څخه مالومېږي چې د شرک نه پرته ګناه کې قتل هم راځي، که د الله جل جلاله خوښه شي ښښنه به ورته وکړي، خو مسلمانانو له پکار ده چې په جدي توګه ترې ځان وساتي، ځکه چې کيدای شي الله جل جلاله ورته ښښنه ونکړي او په خطاء قتل کې که جاني د مقتول اولياؤو ته ديت ورکړي او توبه وباسي. الله جل جلاله به ورته ښښنه وکړي، د نبي (صلی الله عليه وسلم) د دې حديث پر بنسټ:( إِنَّ اللَّهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأَ وَالنِّسْيَانَ وَمَا اسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ) ( صحيح ابن حبان، ۱٦ / ۲۰۲). ژباړه: رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ويلي دي الله جل جلاله زما امت ته خطاء، نسيان او اکراه ښښي. له دې حديث څرګنده شوه چې د خطاء ګناه الله جل جلاله انسان ته معاف کوي.

دويم مطلب: د ټرافيکي پېښې په مسؤوليت کې يواځې والی

د اوسني وخت په ټرافيکي پېښو کې يواځېتوب يوه اړينه موضوع ده؛ ځکه چې په اوس وخت کې ډېر پرمخ تللي وسايل شتون لري، لکه په عصري توګه جوړ شوي ډول ډول موټر؛ نو که چېرې په داسې موضوعاتوکې ډېرور په يواځې توګه ټرافيکي پېښه وکړي، څوک مړ، زخمي کړي، يا د چا مال زيانمن کړي؛ نو مسؤوليت هم د ده پر غاړه دی او بل چا ته يې مسؤوليت نه انتقالېږي. په دې اړه فقهاوو له پخوا دا ويلي دي چې څوک پردی مال د منځه يوسي ضمان پر ده باندې دی؛ ځکه چې ضمان پر هغه چا وي چا چې مال له منځه وړی وي؛ نو که چېرې يو څوک په جرم کې يواځې وي او بل څوک ورسره په کې شريک نه وي؛ نو مسؤوليت هم د ده پر غاړه دی، په دې اړه الله جل جلاله داسې فرمايلي دي . « وَلاَ تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى» ( الانعام: ۱٦۴).

ژباړه: او نه باروي ګناه کار ګناه د بل نفس بلکې هرڅوک خپل بار وړي. په يواځې توګه ترسره شوی جرم چې نور څوک ورسره په کې شريک نه وي د جاني خپل مسؤوليت دی او بل چاته نه انتقالېږي. په خطاء قتل کې د قاتل سره عاقله د همدردی پر بنسټ برخه اخلي، دا نه چې د قاتل سره په جرم کې شريکان دی(الآثار الشرعية على حوادث السير ،للظفيري ص ۵۱).

په ټرافيکي پېښو کې مسؤوليت د لاندې اسبابو له امله راپېښېږي:

۱ - ډرېور نشه يي توکې استعمال کړي.

۲- د ټرافيکي اشارو نه رعايتول.

۳- ټرافيکي قوانين نه مراعتول.

۴- د قانون مخالف تيز تلل.

۵- په هغو لارو تلل چې قانون منعه کړې وي.

٦- د شپې سفر كول چې د موټر څراغونه جوړ نه وي.
۷- موټر له ټاكل شوي وزن زيات بارول.
۸ – بار موټر په داسې لاره بوول چې هغه د دې توان نه لري.
۹- په داسې وخت كې په يو ځاى تېرېدل چې په هغه وخت كې تيريدل ممنوع وي.
۱۰- د موټر ګرمېدو ته پام نه كول.
۱۱- د مكتبونو، مدرسو، پوهنتونو، روغتونونو ګڼ مېشته ځايونو كې په سرعت سره تلل.
۱۲ـ د ټولو ټرافيكي مقرراتو مخالفت كول.
۱۳- د بې لايسنسه موټر چلوونكو لخوا موټر چلول.
اړينه يادونه: نن سبا د ټرافيكي پېښو د ډېر والى لوى لامل د نا مسلكي اشخاصو له لوري د موټرو چلول او د ښي لاس موټرو ته اسناد وركول يادولى شو.
كه داسې حالت رامنځته شي؛ نو مسؤوليت يواځې ډرېور ته راجع كېږي.
درېيم مطلب: د ټرافيكي پېښې په مسؤوليت كې تعدد
كله داسې هم كېږي چې په يوه ټرافيكي پېښه كې د يو څخه زيات كسان شريك وي. ياده پېښه په دوه ډوله ده چې په لاندې توګه يې څېړو.
۱ـ په مباشره توګه ډېر نفر په يوه ټرافيكي پېښه كې شريک وي.
۲ـ- په يوه ټرافيكي پېښې كې د سبب له امله ډېر كسان شريک وي.
لومړى: په ټرافيكي پېښه كې په مباشره توګه د ګډون دا مقصد دى چې زيات كسان په يوه ټرافيكي پېښه كې لاس په لاس جرم ترسره كړي؛ نو په دې اړه فقهاوو ويلي: كله چې په يو جرم كې ډېر نفر شريک شي ټولو ته يو شان مسؤوليت راجع كېږي. ابن قدامه (رحمه الله) ويلي: كله چې په يو جرم كې يوه ډله مشتركه شي ضمان په ټولو لازميږي (المغني، لابن قدامه، ۹/ ٥٦٥). همدا شان مالكي علماء وايي: كه چېرې د يو چا په قتل كې يوه ډله اشتراک وكړي ټول به پرې قصاص كېږي (الشرح الصغير، للدردير، ۴/ ۳۴۹/ جواهر الاكليل، ۲/ ۲٥۹). په همدې توګه كه څوک په ډله يېزه توګه د چا مال له منځه يوسي، ضمان پر ټولو لازم دى.
په ټرافيكي پېښه كې د ګډون مثال: دوه ډريوران د قانوني سفر نه په زياته اندازه تيز رفتار سفر وكړي او په پايله كې دواړه موټر ټكر شي، دلته دواړه ډريوران مسؤول دي؛ ځكه چې دواړو د قانوني رفتار څخه ډېر رفتار كړى.
بل صورت: كله چې قانون ٪ ۱۰۰رفتار اجازه وركړې وي، يو ډرېور په دغه لار ٪ ۱۲۰ رفتار وكړي، بل ډرېور ۱۱۰٪رفتار وكړي او بل ډرېور بيا ۱٥۰٪رفتار وكړي، په پايله كې يې ټرافيكي پېښه رامنځته شي او ټول ډريوران په جرم كې په مباشر ډول دخيل شي؛ نو دلته په هغه چا باندې ډېر ضمان دى د چا سبب چې ډير قوي دى، چې هغه دلته هغه ډرېور دى چې رفتار يې ۱٥۰٪ دى او د رفتار كنټرولولو په اوس وخت كې ډېر پرمخ تللي وسايل دي چې پر مټ يې د ټرافيک پوليس په آسانه توګه مالومولاى شي.

د احناف علماوو نظر دا دی چې په کوم جرم کې ډېر نفر شریک شي؛ نو د جرم په ترسره کېدو کې چې د چا سبب قوي وي ضمان پر هغه دی او د دوی په آند د استحسان غوښتنه دا ده چې په هر یو باندې د هغه د جنایت په اندازه ضمان لازم شي. (تکملة البحر الرائق، للطوري، ۸/ ۳۹۷).

حنابله علماء وایي: چې څوک په جنایت کې په مباشره توګه شریک شي په ټولو باندي یوه اندازه ضمان لازم دی (کشاف القناع، للبهوتي، ٦/ ٧).

یادونه: ټرافیکي پېښه که په قصد سره وي او که په خطاء ضمان په کې لازم دی؛ ځکه چې دا د بنده ګانو حقوق دي او د بنده ګانو په حقوقو کې ضمان لازمیږي.

دویم: په یوه ټرافیکي پېښه کې د سبب له امله ډېر نفر شریکېدل

کله چې یوه ټرافیکي پېښه د څو سببونو له امله ترسره شي او ټول سببونه د یو ډول څخه وي؛ نو په ټولو یو شان ضمان تقسیمیږی،

د دې مثال داسې دی چې دوه نفر موټر په لار کې ودروي، دریېم موټر راشي او د دې موټرو سره ټکر شي؛ نو د ټکر شوي موټر ضمان په دغه دواړو دریورانو دی چې موټرې یې په لار کې درولي وي (حاشیة رد المختار، لابن عابدین، ٥/ ٣٥٧).

د دې مثال پخواني فقهاوو داسې بیان کړی دی چې که چېرې یو څوک په لاره کې په شریکه څاه وکېندي او څوک په کې ولوییږي؛ نو ضمان په ټولو مشترک دی (القواعد، لابن رجب، الحنبلي، النشر القاهره، الطبع الحلبي، ٢/ ٣٨).

څلورم مطلب: په ټرافیکي پېښه کې مسبب او مباشر یو ځای کېدل

کله داسې هم کېږي چې په ټرافیکي پېښه کې مباشر (لاس په لاس یو کس جرم وکړي) او دویم کس په پېښه کې مسبب وي چې ورسته په مثال کې واضح کیږي. کله چې دا ډول ټرافیکي پېښه رامنځته شي؛ نو ضمان په چا لازمېږي؟ علماء یې په اړه داسې وایي:

کله چې په یوه پېښه کې مباشر او متسبب یوځای شي د جنایت نسبت مباشر ته کیږي (الاشباه والنظائر، لابن النجیم، ص ١٦٣). کله چې په جرم کې دوه سببونه یوځای شي یو مباشر، او بل سبب؛ نو مباشرت ته په سببیت ترجیح ورکول کیږي (الفروق ، للقرافي، ٢/ ٢٠٨).

د دې قاعدې پر بنسټ جمهور فقهاوو وایي: چې کله یو کس د یو کور دروازه خلاصه کړي، همدغسې خلاصه یې پریږدي، په کور کې هم څوک نه وي، غل راشي او د کور نه غلا وکړي؛ نو دلته ضمان په غل دی ځکه چې هغه په جرم کې مباشر دی او هغه چې د دروازې خلاصوونکی دی، هغه مسبب دی په هغه باندې ضمان نه شته. مالکیه فقهاء وایي: چې ضمان د دروازې په خلاصوونکی دی ځکه چې هغه د جرم مسبب دی (القواعد ، لابن رحب الحنبلی ، ص ٣٠٧).

په ټرافیکي پېښه کې د دې مثال داسې دی: چې یو ډریور د سرې اشارې نه تېریږي، هلته ودریږي، بل موټر په زیات سرعت راځي او ټرافیکي پېښه رامنځته شي. په دې مثال کې لومړی ډریور په پېښه کې مسبب دی؛ ځکه چې د هغه په سبب پېښه رامنځته شوه، ولې دویم ډریور په پېښه کې مباشر دی؛ ځکه

چې ده موټر په مباشره توګه ټکر کړ. که په دې مثال کې موږ غور وکړو؛ نو دواړو ډرېورانو د قانون څخه سرغړونه کړې، يو د سرې اشارې نه تېر شوی او هغه بل تيز رفتاري کړې ده، په دې مثال کې ضمان په مسبب دی؛ ځکه هغه د سرې اشارې نه تېر شوی. په دې مثال کې د مباشر په نسبت د مسبب جرم قوي دی؛ نو ځکه ضمان په مسبب لازمېږي، دا ډول مثالونه د عامې قاعدې نه علماوو استثناء کړي دي.
(الآثارالشرعية المترتبة على حوادث السير. للظفيري، / ٦٠). د داسې قسم استثناء مثال علماوو داسې ښودلی دی: چې يو سړی يو بل څوک ديکه کړي، هغه د يو چا په ښيښو ولوېږي او هغه ماتې شي؛ نو ضمان په ديکه کوونکي دی (مجمع الضمانات، لبغدادي، / ۱۴۹).
په ټرافيکي پېښو کې يې مثال: يو سړی په موټر کې غوړي بار کړي، هغه ترې په لار کې توی شي او نور موټر له دې غوړو له امله ټکر شي؛ نو دلته ضمان په هغه چا دی چې غوړي يې توی کړي دي؛ ځکه هغه مسبب دی او سبب يې ډېر قوي دی. (الاشباه والنظائر، لابن النجيم ص ٦١).
هغه مثال چې په هغه کې مباشر او مسبب دواړه ضمان ورکوي:
فقهاوو يې مثال داسې ذکر کړی دی، يو سړی په سپرلۍ ناست دی او بل سړي د سپرلۍ پړی نيولی وي، دا سپرلۍ په څه شي باندې پښه کيږدي او هغه له منځه يوسي؛ نو دلته به داواړه ضمان ورکوي، مباشر هغه چې په سپرلۍ ناست دی او مسبب هغه چې دسپرلۍ پړی يې نيولی دی (تبيين الحقائق شرح كنزالدقايق، الزيلعي، ٦/ ١٥٠).
په ټرافيکي پېښو کې يې مثال: يو ډرېور په خطاء د بل موټر مخکې خپل موټر ودروي او هغه يې د شاه له خوا په داسې رفتار کې ووهي چې د قانوني رفتار نه تيز وي، دلته په دواړو ضمان لازم دی.
پنځم مطلب: په اسلامي فقه کې د ټرافيکي پېښې سزا
لکه څرنګه مو چې يادونه وکړه چې ټرافيکي پېښې جرمونه دي، که په قصدي توګه وي او که په خطايي ؛ ځکه چې په ټرافيکي پېښو کې حقوق العباد له منځه ځي، که څوک پکې مړ، ټپي شي او که مال پکې تلف شي؛ نو هغه هم د انسانانو حقوق دي، په قتل کې د ضمان په اړه مخکې تفصيلي بحث شوی هغه بسنه کوي، دلته يواځې دومره يادونه کوو چې که ټرافيکي پېښه په عمدي توګه وي، په هغه کې قصاص دی، که يې څوک وژلی وو، جاني يې په مقابل کې وژل کيږي، که د چا د بدن غړی يې قطعه کړی وو، همدغسې به يې د بدن غړی قطعه کيږي او که ټرافيکي پېښه په خطايي توګه وه، چې ټرافيکي پېښې ډېری په خطاء سره پېښېږي؛ نو که څوک يې وژلې وي د هغه په مقابل کې به عاقله (چې د مړي خپلوان بلل کيږي) په درې کلونو کې سل اوښان او يا د سلو اوښانو قيمت د مقتول اولياؤو ته ورکوي، او که چېرې په ټرافيکي پېښه کې د چا مال تلف شوی وي؛ نو د هغه ضمان به ورکوي، که په عمدي توګه وي او که په خطاء سره ؛ ځکه دا حقوق العباد دي او هغه نه ښنل کېږي تر څو چې يې بنده ونه ښنې.
شپږم مطلب: د افغانستان د جزا کوډ په رڼا کې د ټرافيکي پېښې سزا
هر هغه څوک چې د ټرافيکي اصولو او مقرراتو څخه سرغړونه وکړي د ګران هېواد افغانستان جزا کوډ ورته مجازات ټاکلي دي، چې په لاندې توګه يې توضيح کوو.

**لومړی د افغانستان د جزا کوډ له نظره د ټرافیکي پېښو پېژندنه.**

۱ - ټرافیکي پېښه هغه واقعه ده چې د اهمال، غفلت، بې احتیاطی، د قوانینو مقرراتو او د ټرافیکي لایحو د نه رعایت له امله رامنځته کیږي او په جسمي یا مالي زیان تمامیږي.

۲- د ۵۵۷ مې مادې د (۱) فقرې کې د درج ټرافیکي پېښې مرتکب د دې فصل له حکمونو سره سم مجازات کیږي.

**د جزا کوډ له نظره د ټرافیکي پېښو ډولونه**

د پایلې له امله درنه، منځنۍ او کوچنۍ ټرافیکي پېښې په ټرافیکي پېښو کې شمېرل کیږي.

۱ـ درنه پېښه هغه حالت دی چې د شخص په فوت کېدو، د غړي په دایمي معلولیت او له سلو زرو افغانیو څخه په زیات مالي ضرر تمام شي .

۲ـ منځنۍ ټرافیکي پېښه هغه حالت دی چې په شدید ضرب یا جرح، د غړي په ماتېدو او له پنځوس زرو افغانیو پورې په مالي ضرر تمام شی.

۳ـ-کوچنۍ ټرافیکي پېښه هغه حالت دی چې په سپک ( خفیف) ضرب یا جرح او تر پنځوس څخه تر سلو زرو افغانیو پورې په مالي ضرر تمام شي. (جزا کوډ: مادې ۵۵۷- ۵۵۸).

**په ټرافیکي پېښه کې مشدده حالات**

له لاندې حالاتو څخه په یوه کې د ټرافیکي پېښې ارتکاب مشدده پېژندل کېږي مرتکب د ترکبه جرم د وړاندوینې شویو مجازاتو په اکثره حد محکومیږي.

۱ـ-د چلونې جواز نه لرل

۲ـ- له فني یا مسلکي اصولو څخه د جسمي تخطی له امله د ټرافیکي پېښې ارتکاب

۳ـ- په هغه حالت کې چې د حادثې د پېښېدو له امله یوه نفر څخه زیات فوت یا شدیداً ټپي شوای وي (پورتنی مصدر، ماده /۵٦٦).

**د ټرافیکي پېښې مجازات**

۱ ـ هغه شخص چې د درنې ټرافیکي پېښې مرتکب شي، د فوت یا دایمي معلولیت په صورت کې د رسېدلي زیان پرجبران برسېره په منځني حبس او د مالي ضرر د اوړېدو په صورت کې د زیان پر جبران برسېره له پنځوسو زرو څخه تر سلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

۲ـ-هغه شخص چې د منځنۍ ټرافیکي پېښې مرتکب شي، د شدید ضرب یا جرح د واردولو او د غړي د ماتېدو په صورت کې د رسېدلي زیان پر جبران برسېره تر دریو کلونو پورې په منځني حبس او د مالي ضرر د پېښېدو په صورت کې د زیان پر جبران برسېره له پنځه ویشت زرو څخه تر پنځوس زرو افعانیو پورې په نغدي جزا محکومیږي.

۳ـ-هغه شخص چې د کوچنۍ ټرافیکي پېښې مرتکب شي، د جادې د ټرافیکو د قانون حکمونو پر هغه باندې تطبیقېږي(جزاکوډ، ماده / ۵۵۹).

۴ـ هغه شخص چې د نشې په حالت کې چلونه وکړي، په لنډ حبس یا له دېرشو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.
۵ ـ که چېرې شخص د نشې په حالت کې د ټرافیکي پېښې مرتکب شي د دې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوې جزا برسېره د مرتکبه جرم په جزا هم محکومېږي. (جزاکوډ، ماده/ ۵۶۳).

**پایلیزه**

موږ د دې مقالې له لیکلو وروسته دې پایلو ته رسېږو چې:
۱ـ ټرافیکي پېښې ټولو هغو حوادثو ته شاملیږي چې په هغې سره روح وځي، بدن ته په کې زیان رسیږي او مالونه په کې له منځه ځي.
۲ـ ټرافیکي پېښې د لاندې اسبابو له امله پېښیږي. ۱- لار ۲- موټر ۳- انسانان ۴- طبعي عوامل ۵- ټرافیکي اصول نه مراعتول.
۳ـ ټرافیکي پېښې چې کله په قصدي ډول ترسره شيي قصاص پکې لازمیږي او که په خطایي ډول ترسره شي نو دیت پکې لازمیږي.
۴ـ کله چې یوه ټرافیکي پېښه د څو سببونو له امله ترسره شي او ټول سببونه د یوې نوعې څخه وي، نو په ټولو یو شان ضمان تقسیمیږی.
۵ـ کله چې په یوه ټرافیکي پېښې کې مباشر او متسبب یوځای شي د جنایت نسبت مباشر ته کیږي او کله چې په جرم کې دوه سببونه یو ځای شی چې یو یې مباشر او بل سبب، نو مباشرت ته په سببیت ترجیح ورکول کیږي.
٦ـ ټرافیکي پېښې جرمونه دي، که په قصدي توګه وي او که په خطایي؛ ځکه چې په ټرافیکي پېښو کې حقوق العباد له منځه ځي.

**وړاندیزونه**

۱ – ټولو موټر چلونکو ته مو دا وړاندیز دی چې موټر چلولو کې احتیاط وکړي ترڅو ټرافیکي پېښې رامنځ ته نشي.
۲- د شرعیاتو پوهنځي، اسلامي ثقافت علمي کادر غړو او نورو څېړونکو ته مو دا وړاندیز دی چې د ټرافیکي پېښو په اړه لا ډېر تحقیق او تحلیل وکړي.
۳ – ټولو مسلمانانو ته مو دا وړاندیز دي چې نورو ته د هر قسم زیان رسولو څخه ډډه وکړي.
۴- د اسلامي امارت اړوند مراجعو ته وړاندیز کوو چې د ښې لاس نقلیه وسایطو له پېر، پلور او وارده ولو څخه ډده وکړي او کومې چې شتون لري د حل په موښه یې کوټلي ګامونه واخلي.

**سرچيني**

قرآن كريم
ابن حبان، محمد بن حبان أبو حاتم، (١٤١٤ - ١٩٩٣) صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان. المحقق: شعيب الأرنؤوط، الناشر: مؤسسة الرسالة – بيروت، الطبعة: الثانية، ١۴١۴هـ.
ابن رجب، الحنبلي، القواعد النشر القاهره، الطبع الحلبي.
ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي(١٤١٢هـ - ١٩٩٢م) رد المحتار على الدر المختار، الناشر: دار الفكر-بيروت، الطبعة: الثانية.
ابن قدامة، أبو محمد موفق الدين) المغني، الناشر: مكتبة القاهرة، ١٣٨٨هـ - ١٩٦٨.
ابن منظور، محمد بن مكرم الافريقى المصرى، لسان العرب، المحقق: عبد الله علي الكبير، محمد أحمد حسب الله، هاشم محمد الشاذلي، دار المعارف، القاهرة، ١۴٢٢هـ - ٢٠٠٢م. ابن نجيم، زين العابدين بن ابراهيم، الاشباه والنظائر على مذهب أبي حنيفة النعمان، دارالكتب العلمية، بيروت لبنان.
د افغانستان اسلامي جمهوريت، دعدلیې وزارت رسمي جريده فوق العاده ګڼه، د جزا کوډ، دخپرېدو نېټه ١٣٩٦ هـ ل کال د قوس مياشتې (٢۵) پرلپسې شمېره (١٢٦٠).
باز، سليم باز اللبناني، شرح مجلة الاحكام العدلية، دار احياء التراث العربي. بيروت –لبنان. ماده/ ٨٨٧.
بهوتي، (ب ن) كشاف القناع عن متن الإقناع، (ب ت) مصدر الكتاب: موقع الإسلام
حموي، أحمد بن محمد،(١۴٠۵هـ ١٩٨۵م) غمز عيون البصائر، دار الكتب العلمية بيروت، (ب ت) ١.
دردير،أبو البركات أحمد بن محمد العدوي، (المتوفى : ١٢٠١هـ)، الشرح الصغير.
زيلعي، العلامه، فخرالدين عثمان علي الزيلعي الحنفي، (سنه ١٣١٣هـ) تبيين الحقايق شرح كنز الدقايق، بدون النشر، الطبعة الاولى بالمطبعة الكبرى الاميرية ببولاق مصر.
ظفيري، نايف بن نشي بن عمير النواعي، الآثار الشرعية المترتبة على حوادث السير دراسة فقهية مقارنة بنظام.
قرافي، أبو العباس أحمد بن إدريس الصنهاجي القرافي، الفروق، تحقيق خليل المنصور، الناشر، دار الكتب العلمية، سنة١٤١٨ هـ - ١٩٩٨م ـ بيروت.
كاساني علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الحنفي، (١٤٠٦هـ - ١٩٨٦م) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الثانية.
ناجح، محمد حسن عصيدة، حوادث السيارات فى التشريع الجنايي الاسلامي دراسة فقهية مقارنة الناشر، دار الكتب العلمية بيروت - لبنان ، بدون الطبع.
يوسف أحمد، تحليل حوادث السيارات بالطريق السريع، عواملها وسائل الحد منها، اكاديمية الشرطة بجمهورية مصر العربية ، مصر القاهرة ١٩٩٠٠.

# عقوبة الجرائم المتعلقة بحوادث المرور في الفقه الإسلامي والقانون الجزايي الأفغاني

[۱]پوهنيار عبدالعزيز عابد، قسم الفقه و القانون، كلية الشريعة، جامعة لوجر.
[۲]پوهنيار شفيع الله اميني، قسم الثقافة الاسلامية، كلية التعليم والتربية، جامعة لوجر.
البريد الاكتروني: abdulazizabid2023@gmail.com

**المستخلص:**

تدور الموضوع حول تحديد حوادث المرور وما يرتبط بها من جرائم وعقوبات في الفقه الإسلامي والقانوني الجزايي الأفغاني، الهدف من الدراسة التعرف على حوادث المرور وأنواعها وأنواع الاشتراك في حوادث المرور و مسؤولية الجنائية والعقاب المترتب على الجرايم، ومنهج البحث استقرائي، والنتايج التي وصلت اليها أن: هذه الجرايم يزيل به حقوق العباد، فان كان عمداً وجب القصاص و ان كان خطأً يلزم فيها الدية، والقانون حدد لها غرامة ماليه بحسب نوعية خفة الحادثة و ثقلها، والجدير بالذكر ان أهميته لا تخفي بانه كان موضوعا مرتبطا بالنفس والمال و يعتبر أحد ضروريات الخمسة المهمة في الشريعة الاسلامية.

**الكلمات المفتاحية**: الفقه الاسلامي، الجرايم حوادث المرور، القانون الجزائي، المجازات